# د سټرپټوکوکس سینه بغل ناروغۍ څخه ساتنه کوي

## د نیوموکوکل (PNEUM-P) واکسین




**دا واکسین مو د کومي ناروغۍ پر وړاندې ساتنه کوي؟** دا څو قنده واکسین دی چې د نیوموکوکل ناروغۍ پروړاندې محافظت کوي ، کوم چې یو باکتریا ده چې کولی شي د عادی انتان نیولی (د غوږ انتانات ، د سینوس انتانات) تر ډیر شدید انتاناتو (د وینې انتانات ، مننژیت او نورو) سبب ګیږي.

**څوک باید دا واکسین ترلاسه کړي:**



- که تاسو 65 کاله یا ډیر عمر لرئ، یا که تاسو د خطر نور عوامل لرئ لکه ځینې اوږدمهاله طبي ستونزي لکه د سږو ناروغي، شکر، او نور.
- صحتمنده خلک چې ۶۵ کاله یا ډیر عمر لري ۱ دوز ته اړتیا لري. که تاسو ځینې روغتیایی ستونزې ولرئ لکه د شکر ناروغۍ ، HIVاو داسې نور نو تاسو ممکن د دې واکسین ۱ یا ۲ دوزونو ته په کم عمر کې هم اړتیا ولرئ.

**څوک باید دا واکسین ترلاسه نکړي:**

که تاسو کوم الرجیک عکس العمل لرئ، یا که تاسو امیندواره یاست




**د دې واکسین جانبي عوارض څه دي؟** بدي اغیزی یی خورا عادي او لنډمهاله دي، لکه د ستنی یا پیچکاري ځای کې سوروالی، پړسوب، درد ، سټړیا ، سر درد ، تبه ، د اشتها ضعیفوالی شامل دي. جانبي عوارضو د اداره کولو لپاره د پیچکاري یا ستني ځای کې د یخ ، لوند ټوکر څخه کار اخیستل، او د تبې یا درد سره د مقابلې لپاره د ibuprofen یا acetaminophen په څیر درمل اخیستلی شو.

---

### که تاسو کومي اضافي پوښتني لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلی؟ تاسو کولی شئ:

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیري سره اړیکه ټینګه کړي.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیا مرکز ته په 587-392-8062 شمیري اړیکه ټینګه کړي.
- د خپل کورنی ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.

AIMGA Alberta International Medical Graduate Association

19 TO ZERO UNITED AGAINST COVID-19

Financial contribution:

Public Health Agency of Canada | Agence de la santé publique du Canada

ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION CREATING BRIGHTER FUTURE